مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سید عبیدالله نادر

۲۰۲۲/۱۱/۱۷

# د دردمنو حال

له هغـــی ورځي اخـــته په ظلم و زور یم
چي طـــالب کله راغلی ناســـت په اور یم

زه ډوډی په کـــور کي نه لــــرم،غریب یم
خپل کـــور او خپل کـــهول ته د پیغور یم

زهیر کړی، دغـــه ځو ورځي ژوندون یم
چي امسا ســـره ګرځـــــیږمه، کمزور یم

قرض خاوند راغلی قرض راخخه غواړي
بی وسی نه ،زه په فـــــکر کي د نور یم

چي هیڅ کله دکاندار جیـــــب ته نه رسي
زه په جیب د زمــاني کي هـــغه پور یم

یو نیمځی به پیدا نه کړي زما په کور کي
نه پوهــیږم چي زه کور او که په ګور یم

یوه چـرګـــــه می ،لا نه وي پــــته کړي
چي مختور د عالــمونو ، په خره سپور یم

د حـــالاتو اندیښنو داســـی ، زهـــیر کړم
لکه ناست چي په تبی ، یا په تـــنور یم


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ